مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۳/۰۵/۱۱

# په پاکستان کې اور،

## سیمه ییزه سیالي او نړیوال اورلګیت

ټول پوهیږو، چې په پاکستان کې رواني پېښې تصادفي یا هم د یوې ټولنیزبهیر په پایله کې راپورته شوی بدلون نه، بلکې مهندسي شوې سیاسي لوبې دي.

کیسه څه ده؟

لوبغاړي څوک او قربانیان څوک دي؟

څه به کیږي؟

دا درې مهمې پوښتنې دي. دا غمجن و خونړی داستان د یوکراین له جګړې، له روسیې و چین [په ځینو برخو کې د شنګهای ټولې حوزې] سره د لویدیز پانګوال بلاک سیالي او د اینرژۍ، طبیعي سرچینو، مارکېټ، بشري ځواک راخپلولو او په لوی سر کې د نړیوال امنیت په ستراتیژیکه نقشه کې د اغېزپولو د پراخولو په پار له سیالیو سره تړلې ده. په دې لوبه کې بنسټپالې اسلامي وسله والې ډلې، چې لویدیزوال یې هممهاله هم ترهګر بولي او هم یې په خورا پېچلو تکتیکونو مدیریت کوي، ځانګړی ځای لري.

پاکستان د دغو ډلو د تجربه لرونکي کوربه په توګه د نړیوالو په فرمایش دغه ډلې تر څو کلونو وړاندې ښې لوبولې، خو اوس داسې ښکاري، چې: «دا دیو له بوتل څخه راوتونکی دی.» پاکستان اټومي هېواد دی، تر دوه سوه میلیونه اوښتی نفوس او د نړۍ یو ځواکمن پوځ لري، چې د هېواد اصلي قدرت یې په لاس کې دی. د چین، هیندوستان، منځني ختیځ و منځنۍ اسیا تر منځ پروت دغه لانجمن هېواد په جمهوري او ولسواکو بنسټونو چلېدلای نه شي، ځکه خو یې په ټول تاریخ کې هېڅ منتخب ګوند (او لومړي وزیر) تر پایه خپله دوره بشپړه کړې نه ده. د باروتو په ډېرۍ ناست پاکستان، چې خپل کمزوری دیپلوماتیک سیستم یې هم بایللی، نور د سړې جګړې د زمانې په شان له دوو سره مخالفو بلاکونو سره پر یومهال انډیوالي کړلای نه شي. مانا، دا زمانه نوره تېره ده، چې هم دې امریکا راولوشي، هم دې یې له چین سره «تر سمندر ژوره او تر شهدو خوږه دوستي» وي او هم دې له روسانو سره د افغانستان د دوسیې پر مالکیت چنې ووهي. تر سړې جګړې راوروسته د نړیوالې سیالۍ بله کړۍ (ترهګرۍ ضد) جګړه وبلل شوه، او جغرافیا ورته افغانستان، عراق، سوریه او د شمالي افریقا ځینې هېوادونه وټاکل شول. د عربي بډایو هېوادونو لمنو ته د ترهګرۍ د اور له رسېدو سره، روسانو او بیا چینایانو هم – چې خپلې اقتصادي پراختیا پالنې ته یې ګواښ په سترګو لیده – سیالۍ ته راودانګل. په سوریه کې د روسیې او ایران د بریالي امنیتي – پوځي مانور پایله دا شوه، چې لویدیځ یې په یوکراین کې ښکېل کړي. روسیه ځواکمن زبرځواک دی، خو د جګړې د جغرافیې له پراخېدو او پر یوه مهال په څو جبهو کې جنګېدل یې له پښو غورځوي. لویدیزه ټلواله باید پر یوکراین د فشار کمولو لپاره د روسیې جنوبي ستراتیژیکې پولې وننګوي. د دې هڅې لپاره زړې ترهګرې ډلې بیا فعالې شوې او د جبهې د شا لپاره یې یوه پراخه جغرافیا په کار وه، د همدې لپاره په افغانستان کې یو مسئول ولسواک دولت راوپرځول او واک یې یوې اورپکې ډلې ته وسپارل شو. جګړه هم په جغرافیایي او هم په ډله ییزه توګه د درېګوټیزو (مثلثونو) تر منځ روانه ده. منځنۍ اسیا، منځنی ختیځ او ختیزه اروپا (یوکراین). بنسټپال اسلامي اورپکې هم سره ووېشل شول، تور بیرغونه، سپین بیرغونه او زاړه مجاهدین.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

په پاکستان کې بل شوی اور د دغې اورلوبې یوه برخه ده. عمران خان باید له روسانو سره د خپلې ننګونکې یارانې تاوان ورکړي، چین باید پوه شي، چې «د یوه کمربند یوې لارې» غځول دومره اسانه هم نه دي. چین باید دا هېر نه کړي، چې ایغور جنګیالي لا د جنګول کېدو صلاحیت لري او روسان باید پوه شي، چې منځنۍ اسیا ورته په یوه زاولن زخم بدلېدلای شي. بډای عربان (قطر، سعودي عربستان، متحده عربي امارات او نور) هم له درېیو اړخونو په دې لوبه کې راګډ دي؛ لومړی: خپلمنځي اختلافات او د عربي پسرلي د نویو څپو شونتیا، دویم: د تېلو او ګازو د اقتصاد پر ځایناستو امکاناتو رقابت او درېیم: پاکستان، افغانستان، سوریې، عراق، افریقا او نورو بېوزلو سیمو ته د افراطي وسله والو اسلامپالو ورجارو کول.

په پاکستان کې دننه د دغه هېواد په ټول پوځي کړکېچن تاریخ کې لومړی ځل دی، چې د پوځ ګریوان ته لاس ورغورځېدلی دی، د پوځ تابو ماته ده او نور یې خلک د «خدای سپېڅلی لښکر» نه ګڼي. دا وړه کیسه نه ده، چې قهرېدلي خلک دې د سرقوماندان کورته اور واچوي او د پیریانو په کوډو ساتل کېدونکي GHQ ته دې هم پاڅونوال ورننوځي. پاکستان لوړې پرسر اخیستی او قومي بېلتون ورځ په ورځ په کې زیاتیږي. بلوڅان، سیندیان او پښتانه له وېش نه په تالان خوښ دي او که له پوځه یې سترګه ونه سوزي نو دا سبا به د بنګله دېش کیسه په لا شرموونکې بڼه تکرار شي.دا پوځي کمپ ته ورته هېواد ملت نه لري، بلکې یو پوځ دی، چې هېواد لري او نوم یې پاکستان دی.

توربیرغي، سپین بیرغي، TTP، عرب، ایغور، اوزبیک، تاجیک، کشمیري او نور لسګونه ډلې ورو ورو له کنټرولېدونکي مدیریت څخه وځي. پاکستان ډېره موده خپل پوځي اقتصاد د دغو ډلو په نیابتي جګړو کې د لوبولو له لارې چلاوه، خو نور دا کار ورته سخت دی. پاکستان که وغواړي هممهاله د چین او امریکا په دوو بېلو دړو پښې ټینګې کړي، نو خامخا ډوبیږي. امریکا ورته د باور وړ نه ده، خو ترې ډاریږي او چین چې باوروړ دی، د ستراتیژیکي کلکې ملګرتیا ریسک (ګواښ) پر ځان نه اخلي. چین سیاست نه کوي، اقتصاد پالي. چین په دې پسې نه ګرځي، چې په کوم هېواد کې پښې ټینګې کړي، د چین زېبښاک د پور ورکولو، لارتېرولو او انحصار زېبښاک دی او که اقتصاد یې وګواښل شي، نو بیا ملګرتیا نه پېژني. د سریلانکا او یو شمېر افریقایي هېوادونو برخلیک د ټولو تر مخ دی. چین د خپلې اقتصادي ودې په خاطر له امریکا او نورو سره ځان له جګړې ساتي او د پوتین په شان زړې دوښمنۍ نه پالي.

همدا څو ورځې وړاندې، هیندوستان ته د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر د بېګټې سفر په وړاندې د هغه د هیندوستاني سیال خبرې لړزوونکې وې. هیندوستان او روسیه یو ډول په پاکستان و افغانستان کې د ترهګرو ډلو برګ دروبې ته وارخطا دي.

بدې پېښې پېښېدلای شي، دوه سوه میلیونه وږي انسانان که راوخښمېدل، جنوبي اسیا، منځنی ختیځ او منځنۍ اسیا به پر اور واړوي، ایا دا پوښتنه چاغه شوې نه ده، چې د پاکستان اټومي وسله به د ترهګرو ډلو لاس ته ولویږي؟

تللې امریکا ته د بېرته راګرځېدو بلها ډېرې بهانې پر میز پرتې دي، خو دوی لا هم د یوکراین پر نبض ګوته ایښې، چې څو درجې تبه لري. سیمه تر توپان وړاندې چوپتیا کې ډوبه ده. دا حتمي نه ده، چې امریکا دې داسې راوګرځي لکه په ۲۰۰۱ کې چې راغله، دا جګړه د بنګنو جګړه ده، چې ډرون، بېپیلوټه او څه وڅه بلل کیږي. دا ځل د خپل بلک واټر پرځای سیمه ییزې ملیشې د خپلو ګټو لپاره جنګوي، هغه ملیشې، چې د دوحې د ټرون په مټ یې واک ته ورسولې.

د سیمې خلک د دغه انډوخر لومړني قربانیان دي. په هرځای کې چې د ترهګرو ډلو د مېشتېدا امکانات زیات وي، هلته به ډېر اور بلیږي. د پښتنو جغرافیا دا ځل سیالانو ته په زړه پورې ده، دا تصادفي نه ده، چې عمران خان  ځان په پښتنو ګټي، تش په نامه ملتپال پښتانه ، چې یو مهال یې چپي سیاست کاوه اوس له طالبانو سره ملګرتیا ته مجبوریږي او په افغانستان کې ټوله پښتونمېشته جغرافیا پوځي کیږي.

له ستونزې د وتلو لارې د هوسۍ په ښکرو کې ښکاري؛ د سیمې د ولسونو هوښیارېدل او له افراطیت، ترهګرۍ او بنسټپالو ډلو څخه بېلتون. زر وارې له بده مرغه چې اوس دغه حللاره یوازې یو تخییل بلل کیږي او نور نو سیمه د داسې سره سیالو دوښمنو تر یلغار لاندې ستومانه ده، چې پرته له خپلو بلهارې هستوګنو یې بل دوست بیخي شته نه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ